SHTAMANAI

**درنوهیواد والو!**

پـه خپلـه خوښـه د حقیقـي مالیاتـو ورکـړه د هیـواد د ځـان بسـیاینې پـر لـور ګام دئ او د مالیاتـو عوایـد سـتاسي د ښـوونکو، ډاکټرانـو او امنیتـي ځواکونـو پـر تنخـواؤ لګـول کېـږي؛ نـو د مالیاتـو پـه ورکـړې سره خپلـه ملـي دنـده تـرسره کـړئ.

یکشنبه | ۲۷ ربیع الاول ۱۴۴۴ / ۱ عقرب ۱۴۰۱ | ۲۳ اکتوبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۳۰ | ٤ صفحه ص



# د مالیې وزیر د جاپان له سفیر سره وکتل




دماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري، دجاپان له سفير ښاغلي (Okada Takashi) سره د دې وزارت په مقام کې وکتل.
د لیدني پرمهال د جاپان سفير د مالیې له وزیر سره د جاپان او افغانستان د اړیکو پر تاریخچه، له افغانستان سره د دې هیواد پر مالي، بشري او پراختیایي مرستو او د دوه اړخیزه اړیکو پر پیاوړتیا خبري وکړې او زیاته یې کړه: د جاپان خلک او حکومت د یوه با ثباته افغانستان غوښتونکي دي، دوی د اسلامي امارت کړنې ویني او دا ورته جوته سوې، چې اسلامي امارت فساد له منځه وړی او په ټول هیواد کې ئې امن راوستی.
د ماليې وزير الحاج ملا هدايت بدري، د جاپان سفير ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: اسلامي امارت له جاپان هیواد سره د خپلو اړیکو لا پیاوړتیا ته ژمن دئ، جاپان دې د بشري مرستو تر څنګ پراختیایي مرستي هم وکړي، افغانستان اوس د نړیوالي پانګوني لپاره په ښه فرصت بدل سوی او موږ د جاپان هیواد له سوداګرو او پانګوالو غوښته کوو، چې راسي دلته په زېربنایي او اساسي برخو کي پانګونه وکړي.

## د مالیې او سوداګرۍ وزارتونو ترمنځ تخنیکي ناسته ترسره سوه

د مالیې او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو ترمنځ په افغانستان کي د پانګوني د برانډ پروژې د معرفي کولو تخنیکي ناسته د مالیې وزارت په خیبرهال کي ترسره سوه.
په دې غونډه کي د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس معراج محمد معراج، د دغه وزارت د مقام ستر سلاکار خلیل الله صاحبزاده، د صنعت او سوداګرۍ وزارت د پراختیا او له پانګوالو د ملاتړ رئیس صبغت الله اخندزاده، د دغه وزارت له سوداګرو څخه د ملاتړ آمر میر اشرف احمدي د دواړو وزارتونو یو شمېر رئیسانو او کارکوونکو ګډون کړی وو.



په پیل کي د صنعت او سوداګرۍ وزارت د پراختیا او پانګوني د ملاتړ رئیس صبغت الله اخندزاده په افغانستان کي د پانګوني د کمپاین پېژندني په اړه ټولیز معلومات وړاندي کړل او زیاته یې کړه، چې د پانګوني جلب او جذب د ټولو سکتوري وزارتونو ملاتړ ته اړتیا لري.
وروسته له پانګوني څخه د ملاتړ آمر میر اشرف احمدي د صنعت او سوداګرۍ وزارت د فعالیتونو، د بهرنۍ پانګوني د ارزښت، د پانګوني بهیر، له پانګوالو څخه د ملاتړ او د مالیې وزارت د ونډې په اړه د غونډې ګډونوالو ته هر اړخیز پریزنټیشن وړاندي کړ.
د دې ناستي په لړ کي د مالیې وزارت ستر سلاکار خلیل الله صاحبزاده د غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: هیله لرو چې د پانګوالو د ستونزو د هوارۍ او هماهنګۍ لپاره یوه واحده مرجع رامنځ ته سي او همدارنګه د صنعت او سوداګرۍ وزارت له مسئولینو هیله مند یو، چې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته او په زیربنایي موضوعات او د پانګوالو د مالیې پر ورکړه خپل تمرکز زیات کړي.
د مالیې وزارت د عوایدو عمومي رئیس معراج محمد معراج په خپلو خبرو کي وویل: د مالیې او سوداګرۍ وزارتونه هغه ځانګړي سکټوري وزارتونه دي، چې د پانګوالو لپاره زیاتي اسانتیاوې برابرولای سي او موږ چمتو یو چې د مالیاتو د ورکړې په برخه کي پانګوالو ته لا ډېري اسانتیاوي برابري کړو.
د یادوني وړ ده، چې د ناستي په پای کي د یادو وزارتونو د مسوولینو ترمنځ هر اړخیز بحث او مهمي پرېکړې هم وسوې.

## معین عواید و گمرکات با وزیر صنعت و تجارت دیدار نمود



الحاج ملا ناصر آخوند معین عواید و گمرکات وزارت مالیه با الحاج نورالدین عزیزی وزیر صنعت و تجارت و هیئت همراهش دیدار کرد.
در این دیدار جانبین در خصوص روند ترانزیت در کشور، ایجاد تسهیلات در زمینه صادرات و واردات، رفع مشکلات در زمینه تعرفه گمرکی، ایجاد هماهنگی بهتر بین دو اداره و موضوعات مهم دیگری بحث و گفتگو کردند.
در پایان این نشست روی هماهنگی و همکاری مشترک در بخش های ذکر شده تصامیم مهم اتخاذ گردید.

سرمقاله



## عصري ګمرکونه د عوایدو په زیاتوالي کي مرسته کوي

ګمرکونه د عوایدو د را ټولو اساسي او تر ټولو ستره منبع وي، د دغې منبع د عصري کولو او په نړیوالو معیارونو برابرول د حکومتونو په کاري لومړیتوب کي راځي، برېښنايي تلي او لابراتوارونه د ګمرکونو لومړیتوب دئ او دغه چاره د مالیو د ټېښتي او د توکو په ځانګړي توګه د درملو د چک کولو او کیفیت معلومولو په برخه کي اغېزمن رول لري.
د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې توګه د مالیې وارت د ګمرکونو عمومي ریاست د هیواد په ټولو ګمرکونو کي د پرمختللو برېښنايي تلو او عصري لابراتوارونو نصبول او فعالول ته لومړیتوب ورکوي. د ګمرکونو لوی ریاست په ګمرکونو کي د وارداتي او صادراتي توکو د دقیق وزن معلومولو او د ملي عوایدو له ټېښتي څخه د مخنیوي په موخه د اسلامي امارت له فتحې وروسته د هیواد په ۱۳ محصولي او سرحدي ګمرکونو کي ۱۵ انالوګ او ۸ ډیجیټلي تلي ترمیم او فعاله کړي دي.
همداشان په څلورو ګمرکونو کي یې د وارداتي او صادراتي توکو لپاره ۴ نوي انالوګ تلي نصب کړي دي، چې له دې سره اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کي تلي فعاله او ګټه ترې اخیستل کیږي.
یادي انالوګ تلي اړتیا ته په کتو د ۲۲ او ۱۸ متره په اوږوالي سره نصب سوي دي، چې ډېر ژر به د لا روڼتیا په موخه د سیستم له لاري له مرکز سره هم وصل سي.
د دې تر څنګ د سپین بولدک او اندخوی په ګمرکونو کي د وارداتي توکو د پړاوونو چټک ترسره کولو په موخه د ۲ انالوګ تلو د نصبولو چاري هم رواني دي. د یادو ټولو تلو د ترمیم او نصب بودیجه د مالیې وزارت له بودیجې ورکول کیږي او د افغاني شرکتونو له لوري ئې کارونه سر ته رسېدلي دي.
د دې ترڅنګ په ګمرکونو کي د لابراتوارونو شتون هم د ګمرکونو نړیوال سازمان د غړو هیوادونو له کړنلارو په پام کي نیولو سره یو اړین ګام دئ. په ګمرکونو کي د لابراتوارونو شتون د تعرفوي خطوطو په دقیقه ډلبندۍ او تصنیف او دارنګه د مالیاتو د تعیین او وضعه کولو کي ستر رول لري.
د مالیې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست له نړیوالو معیارونو سره سم په دغو دواړو لارو غور کړی او په تمامه معنی د هیواد د ګمرکونو عصري کولو او په نړیوالو معیارونو برابرولو ته لاس په کار دئ. که څه هم د ګمرکونوبشپړ معیاري کولو او د ګمرکونو نړیوال سازمان له معیارونو سره یې برابرول وخت او ستري بودیجې ته اړتیا لري، تر څو نوي تلي، سکنرونه، لابراتوار او نور اړین او پرمختللي وسایل وپېرل سي او د مسلکي انجنیرانو له خوا نصب کړای سي، ولي بیا هم د مالیې وزارت په دې هڅه کي دئ، چې له خپلو لږو امکاناتو په ګټه اخیستنه دغه معیار د ځان کړي او د نړۍ د ګمرکونو له اوسني کاروان سره موازي مزل وکړي. دغه چاره به نه یوازي موږ د نړیوال معیار تر پولو ورسوي، بلکي له موږ سره به د عوایدو په راټولو کي هم مرسته وکړي او همدا شان به د عوایدو د ټېښتي مخه هم ونیسي.

درنښت
اداره



رئیس عمومی گمرکات با مسئول تطبیق قانون اداره عالی تفتیش دیدار نمود

۴



د مالیې وزارت د اداري معینیت دوهمه اداري ناسته ترسره سوه

۴



له اوږد ځنډ وروسته ابن سینا فارمسي دولتي شرکت خپل فعالیت بیا پیل کړ

۴



د هیواد ټول ګمرکونه په ډیجیټلي او انالوګ تلو سمبال دي

۴



Director General of Customs Meets Kandahar Traders

۴

شتمنی
SHTAMANAI

# رئیس عمومی گمرکات با مسئول تطبیق قانون اداره عالی تفتیش دیدار نمود

مفتی عبدالمتین سعید رئیس عمومی گمرکات وزارت مالیه با محمد طارق فاروقی مسئول تطبیق قانون اداره عالی تفتیش در دفتر کاری خود دیدار کرد.
در این دیدار که با حضور معاونین و تعدادی از روسا ریاست عمومی گمرکات برگزار شد، در ابتدا رئیس عمومی گمرکات در سخنان خود گفت: ما در تلاش هستیم تا تسهیلات بیشتری را در اختیار تجار داخلی و خارجی در گمرکات قرار دهیم و در این راستا همکاری سایر ادارات ذیربط نیز ضروری می باشد، در حال حاضر فساد در گمرك به صفر رسیده



است و هر فردی که به ریاست عمومی گمرکات مراجعه کند، می تواند بدون تشریفات با هر مسئولی ملاقات کند و مشکل خود را با آنها در میان بگذارد.
مسئول تطبیق قانون اداره عالی تفتیش، ضمن امتنان از عملکرد های صادقانه ریاست عمومی گمرکات، اطمینان داد که مشکلات کاری شما را با رهبری و سایر ادارات به منظور رفع آنها در میان خواهند گذاشت.

# د مکروريانونو د ساتني او ځارني دولتي شرکت فعالیتونو ته کتنه

د مکروريانونو د ساتني او ځارني دولتي شرکت په ۱۳۴۵ ل. کال کي جوړ سوی، چي د مکروريانونو او اړوندو پروژو اوسېدونکو ته (۲۴) ساعته خدمتونه وړاندي کوي. دغه خدمتونه په څو برخو وېشل سوي دي؛ لکه: کانالیزاسیون، د نیمگړو او تخریب سوو برخو جوړول، د چاپېریال پاك ساتل او د مرکز گرمیو فعال ساتل. یاد شرکت له همدې لارې عواید ترلاسه کوي، چي بېرته یې ډېره برخه د مکروريانونو په بیا رغونه، ساتنه او خلکو ته د هوساینې په چارو لگوي. د مکروريانونو دولتي شرکت په ۱۳۹۹ کال کي په رسمي ډول له دولتي تصدیو څخه دولتي شرکت ته شخصیت د تغییر حق ترلاسه او خپل فعالیتونه یې پیل کړه. د افغانستان اسلامي امارت د مکروريانونو د لا ښې ساتني او خلکو ته د هوساینې په موخه نوي طرحي او پلانونه لري. د مکروريانونو د رهبری له لوري په اداري، مالي، تخنیکي او سوداگریزو برخو کي د لا ښه تنظیم، پرمختگ په موخه یې مسلکي او با تجربه کسان د ملت په چوپړ کي دي.

**د مکروريانونو دولتي شرکت په تېر یوه کال کي څه کړي:**

د مکروريانونو دولتي شرکت د رهبری په هڅو او د کارکوونکو په نوښت د دې شرکت لپاره پنځه کلن ستراتېژیک پلان جوړ سوی، چي په مټ یې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د مکروريانونو د ټولیز وضعیت ښه کولو، سمسورتیا او پرمختگ په موخه اړین اقدامات په پام کي نیول سوي دي، د شرکت اداري ودانی چي د تېرو (۲۰) کلونو راپه دېخوا د بېلابېلو لاملونو له کبله ویجاړه سوې وه، بېرته رغول سوې، د شرکت په ټولو برخو کي بروکراسي له منځه تللې او روڼتیا رامنځته سوې، د اداري، مالي او اخلاقي فساد پر وړاندي چټکه مبارزه ترسره سوېده، د شرکت لپاره تقنیني اسناد جوړ سوي دي (لکه د مقدماتي کرایې لایحه، د پېرېدونکو د خدمتونو طرزالعمل، د ۲۳بلاك د اپارتمانونو د وېش طرزالعمل او د ټرانسپورټ طرزالعمل)، په فساد کي د ښکیلو کسانو پر وړاندي قانوني کړني ترسره سوي، د الکترونیکي حکومتولی پر لور د گام اېښودو لپاره د ټکنالوژۍ امریت رامنځته سوی لکه (ډېټابېس او نور ډیجیټلي سیستمونه)، د حساب ورکولو او حساب اخیستني اصل راژوندی سوی، د کارکوونکو د لېږد لپاره منظم ټراسپورټي سیستم او طرزالعمل جوړ سوی، د اداري د شفافیت لپاره د داخلي تفتیش آمریت رامنځته سوی، شرکت کي دننه مسجد، کنفرانسونو تالار او عمومي پخلنځای جوړسوی، د پلان او پالیسی آمریت په همکاری د ریاست او معاوینیتونو په کچه منظم کاري او اداري پلانونه او گڼې پالیسی جوړې سوي، د شرکت د فعالیتونو ښه منعکس کېدو لپاره بروشرونه، فایل فولډرونه جوړ او کلیزې چاپ سوي دي، د هر معاوینیت د کارکوونکو د ښه پېژندلو لپاره د اداري جوړښت چارټونه چاپ سوي اود کارکوونکو د سوانحو دفترونه تنظیم او عصري سوي دي.

**په اداري او مالي برخه کي پرمختگونه:**




د شرکت د رهبری په لارښوونه په تېر یو کال کي لسگونه مسلکي او با تجربه کسان د دې شرکت په مهمو بستونو کي گمارل سوي دي، د تېري اداري جوړښت د ارزوني او تحلیل په پایله کي جوته سوه چي ٦٥ گمارني غیر مسلکي او غیر تخصصي سوي وې، چي شاوخوا ٦٠ سلنه کسانو تر ۱۲ ټولگی زده‌کړي کړي وې، د دې ستونزي او ننگوني د له منځه وړلو په موخه مسلکي او تخصصي گمارني ترسره سوې چي د ماسترۍ او لیسانس په کچه با استعداده، باتجربه او ځوان کادرونه په دندو وگمارل سول. همدا رنگه د شرکت په تاریخ کي په لومړي ځل د ازادي سیالی له لاري د مسلکي کسانو گمارنه سوې ده، د کاري تجربې او ظرفیت له مخي د کارمندانو تفکیك سوی، د اداري فساد پر وړاندي جدي گامونه اخیستل سوي، چي له کبله یې د شرکت ټول عواید په شفاف ډول راټولېږي، ټولو کارکوونکو ته د پېژندني کارتونه وېشل سوي دي، د شرکت لپاره د Server Room، د مزي لرونکي ټیلفوني او انټرنیټي شبکي رامنځته سوي دي، د شرکت کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړوني لپاره گڼ روزنیز پروگرامونو جوړ سوی دي، د عوایدو لوړولو په موخه گڼ شمېر اساسي تأسیسات او جایدادونه داوطلبی ته ورکول سوي دي، د شرکت او کارکوونکو د خوندیتوب لپاره داخلي امنیت رامنځته سوی او محافظتي مجاهدین استخدام سوي دي.

**تخنیکي او عملیاتي گامونه:**

د یونیسف په مالي مرسته د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د پاکو اوبو پنځه څاگاني کیندل سوي او دوه غیر فعاله څاگان فعاله سوي دي، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په همکاری د شرکت په رسمي بلنه د مکرورويانونو د مرکز گرمی او اړوندو تخنیکي سیسټمونو د بیارغوني د سروې او ډیزاین لپاره د روسیې د اولېمپ شرکت انجنیران راوغوښتل سول؛ ترڅو دغه تخریب او تر ډېره بریده له فعالیته غورځېدلې برخه له سره فعاله کړي. د لومړي مکروريانونو دستگاه چي په تېرو جگړو کي زیانمنه سوې وه د شرکت د داخلي پرسونل په مټ بېرته ورغول سوه. د قلعه وزیر پمپ سټېشن د بیارغوني لپاره د یونېسف په مالي همکاری د شاوخوا ۷۰ میلیونه افغانیو په ارزښت پروژه منظور سوه. د قلعه وزیر تصفیه خانې فعاله سوېده، چي له کبله یې د خپل سرو فاضله اوبو تخلیه ځایونو مخه ونیول سوه او بالاخره د مکروريانونو د ځینو ویجاړو سوو برخو ترمیم او بیا رغونه هم روانه ده.

**په سوداگریزه برخه کي لاسته راوړني**

د محاکمو د پرېکړو له مخي په تېر یو کال کي ٦۳ دوکانونه داوطلبی ته وړاندي سوي، چي له ډلي یې د ۲۲ هغو کارونه بشپړ سوي دي، د مکروريانو په محوطه کي دوکانونه د دې شرکت د عوایدو ستره برخه جوړوي. د شپږو میاشتو په جریان کي د شرکت ٦۸ میلیونه افغانی طلبات (پوروونه) راجمع کړای سوي دي. د یوې ربعي په لگښتونو کي د ۳۴ میلیونه افغانیو سپما رامنځته سوې ده. د یوې ربعي په غیري اساسي عوایدو کي د ۵ میلیونو افغانیو ډېروالی. د څلورم مکروريانونو په سیمه کي یوه مځکه چي په تېرو کلونو کي د یوه زور واکي له خوا غصب سوې وه له غصب خلاصه او د شرکت له خوا په کرایې ورکړل سوه. همدا راز د دې لاسته راوړونو ترڅنگ، د ۲۳ بلاك د اپارتمانونو د وېش طرزالعمل، د داغمه جاتو د تفکیك طرزالعمل او د پېرېدونکو او ټراسپورټ لپاره نوي طرزالعملونه جوړ سوي دي، د طلباتو او پوروونو د ترلاسه کولو په موخه د مکرورويانو او اړوندو پروژو د اوسېدونکو او دولتي ادارو له استازو سره مشورتي ناسته ترسره سوې ده. د دریو مځکو قانوني مراحل بشپړ سوي، چي د ځینو کسانو له خوا پرې د ملکیت دعوا سوې وه، چي دا پرېکړه د شرکت په گټه تمامه سوه. د شرکت د ټولو اساسي او غیري اساسي دوکانونو د مقدماتي کرایې لپاره مناسبه او منصفانه لایحه جوړه سوې. د مکروريانونو له بېلابېلو سیمو څخه موانع، غیر قانوني کانتینرونه، کانېکسونه او غرفې راټولي کړي دي.

---

## رئیس عمومی گمرکات با شماری از تجار ولایت ننگرهار دیدار نمود



مفتی عبدالمتین سعید رئیس عمومی گمرکات وزارت مالیه با شماری از تجار ولایت ننگرهار در تالار جلسات معینیت عواید و گمرکات دیدار کرد.
در این نشست معراج محمد معراج رئیس عمومی عواید، محمد یونس مهمند معاون اول اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان، خان جان الکوزی عضو هیئت مدیره این اتاق، معاون عملیات گمرکات و برخی از روسای اشتراك داشتند.
در ابتدا معاون اول اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان از رهبری ریاست عمومی گمرکات جهت رسیدگی به مشکلات تجار ابراز امتنان نمود. وی از رهبری ریاست عمومی گمرکات خواست تا برای حل مشکلات تجار به ولایت ننگرهار سفر نمایند.
در ادامه نماینده تجار ولایت ننگرهار در مورد مشکلات موجوده در بخش های هزینه ترازو و طی مراحل اموال گمرکی یادآور شده و خواهان حل آنان شد. همچنین وی گفت تجار آماده است تا مسئله نامعتبر T۱ را معتبر بسازند. وی از رهبري ریاست عمومی گمرکات خواست تا جرایم مالیاتی را برایشان معاف نموده و آنعده تجار که T۱ شان نامعتبر شده است تحویلی شان به شکل قسط وار صورت بیگیرد.
رئیس عمومی گمرکات پس از شنیدن مشکلات آنان گفت: فراهم نمودن تسهیلات برای تجار در گمرکات اولویت کاری ماست و تلاش می کنیم تا طی مراحل گمرکی را بیشتر تسریع نمایم.
وی در مورد فورم انتقال و هزینه سفر گفت که این مشکل به زودی حل خواهد شد. آقای سعید در مورد T۱ نامعتبر گفت که تجار باید باقیات اصل خود را تحویل نمایند و در بخش معافیت جریمه ها منتظر تصمیم دولت باشند.

## کشف و ضبط پرندگان قیمتی نایاب در گمرک تورخم



در یک اقدامی فوق العاده محافظین گمرک تورخم قطعه محافظت گمرکات وزارت مالیه، ۲ (باز) که در یک موتر باربری مملو از مرغ ها جاسازی شده بود، کشف و ضبط گردید.
این پرندگان قیمتی و نایاب به کشور همسایه (پاکستان) به شکل قاچاق انتقال میگردید که توسط محافظین گمرکی متوقف شده و از انتقال غیرقانونی آن جلوگیری صورت گرفت. محافظین گمرکی وزارت مالیه اکنون می توانند که از انواع صادرات و قاچاق غیرقانونی جلوگیری نمایند.

شتمني
SHTAMANAI

# د هیواد ټول ګمرکونه په ډیجیټلي او انالوګ تلو سمبال دي




کـومـې تلـې چې د افغانستان اسلامي امارت له فتحې وروسته ترمیم شوي دي

| شمیره | ګمرک | فعالیت | نوعیت | تعداد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غلام خان | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۲ | ننګرهار | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۳ | تورخم | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ او ډیجیټل | (۱) انا لوګ او (۲) ډیجیټل |
| ۴ | پکتیکا | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۵ | پکتیا | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | ډیجیټل | (۱) انا لوګ او (۲) ډیجیټل |
| ٦ | کندهار | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ او ډیجیټل | ۱ |
| ۷ | سپین بولدک | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | (۱) انا لوګ او (۲) ډیجیټل |
| ۸ | هرات | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۹ | اسلام قلعه | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۲ |
| ۱۰ | تورغونډي | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۱۱ | کندز | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۲ |
| ۱۲ | حیرتان | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ او ډیجیټل | (۱) انا لوګ او (۲) ډیجیټل |
| ۱۳ | اندخوي | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |

کومـې تلـې چې نـوې فعـاله شـوي دي

| شمیره | ګمرک | فعالیت | نوعیت | تعداد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | فراه | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۲ | خوست | د صادراتي توکو د وزن معلوملو لپاره | انالوګ | ۱ |
| ۳ | نیمروز | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپار | انالوګ | ۱ |
| ۴ | ډنډپټان | د صادراتي توکو د وزن معلوملو لپاره | انالوګ | ۱ |

کومـې تلـې چې اوس مهـال د نصـب کار پـې روان ده

| شمیره | ګمرک | فعالیت | نوعیت | تعداد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سپین بولدک | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپاره | انالوګ | [illegible] |
| ۲ | اندخوي | د وارداتي توکو د وزن معلوملو لپاره | انالوګ | ۱ |

د ګمرکونو لوی ریاست په ګمرکونو کې د وارداتي او صادراتي توکو د دقیق وزن معلوملو او د ملي عوایدو له تېښتي څخه د مخنیوي په موخه د اسلامي امارت له فتحي وروسته د هیواد په ۱۳ محصولي او سرحدي ګمرکونو کې ۱۵ انالوګ او ۸ ډیجیټلي تلې ترمیم او فعاله کړي دي.

همداشان په څلورو ګمرکونو کې یې د وارداتي او صادراتي توکو لپاره ۴ نوي انالوګ تلې نصب کړي دي، چې له دې سره اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کې تلې فعاله او ګټه ترې اخیستل کیږي.

یادي انالوګ تلې اړتیا ته په کتو د ۲۲ او ۱۸ متره په اوږوالي سره نصب سوي دي، چې ډیر ژر به د لا روښتیا په موخه د سیستم له لاري له مرکز سره هم وصل سي.

د دې تر څنګ د سپین بولدک او اندخوی په ګمرکونو کي د وارداتي توکو د چټک طی مراحلو په موخه د ۲ انالوګ تلو د نصبولو چاري هم رواني دي.

د یادوني وړ ده چې د یادو ټولو تلو د ترمیم او نصب بودجه د مالیې وزارت له بودجې تمویل سوې او د افغاني شرکتونو له لوري ئې کارونه سر ته رسیدلي دي.

# د مالیې وزارت د اداري معینیت دوهمه اداري ناسته ترسره سوه

د مالیې وزارت د اداري معین په مشرۍ دوهمه اداري ناسته د یو شمیر رئیسانو او مسؤلینو په ګډون، د مالیې وزارت په خیبر صالون کي ترسره سوه.

په پیل کي د مالیې وزارت اداري معین مولوي حمدالله زاهد مسؤلینو ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ د اداري ناستو اهمیت بیان کړ او وې ویل، چې د اداري ناستي اصلي موخه د وزارت اړوند اداري چارو ته سمون ورکول دي؛ تر څو له دې لاري په اداري چارو کي شته ستونزي رابرسیره کړو او په ګډه ورته د حل مناسبي لاري ولټوو.

وروسته د تیری ناستي د ترسره سوو پریکړو ارزونه وسوه او په تعقیب یې د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست، د خزاینو عمومي ریاست، د نظارت او هماهنګۍ ریاست، د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست او د وزارت امنیتي مسؤل په نوبت سره د اړوندو ادارو لاسته راوړني او عمده ستونزي شریکي کړې او د ستونزو د حل په تړاو د کارپوهانو او ګډونوالو له لوري اړیني حل لاري وړاندي سوې.

د اړیکو او عامه پوهاوي رئیس احمد ولي حقمل په ملي او نړیواله کچه د مالیې وزارت



د چارو اړوند مثبتو معلوماتو د ورکړي په برخه کي د یاد ریاست ارزښت په ډاګه کړ او یادونه یې وکړه، چې د مالیې وزارت اړوند ټولې اداري باید د اړیکو او عامه پوهاوي له ریاست او مسؤلینو سره د لازمو معلوماتو په شریکولو کي لا ډیره همکاری وکړي، تر څو له ولس او نړۍ سره د مالیې وزارت د مهمو کړنو په تړاو سم معلومات پر وخت شریک سي او د منفي نا سمو معلوماتو د خپریدو مخنیوی وسي.

په پای کي د مالیې وزارت اداري معین مولوي حمدالله زاهد د ټولو ریاستونو اړوند شته ستونزو په برخه کي د کارپوهانو د نظرونو او حل لارو سره سم د عملي چارو د ترسره کولو هدایت وکړ او زیاته یې کړه، چې د مالیې وزارت ټولي اداري دي په پوره همغږۍ سره د شته ستونزو د حل په موخه په ګډه لاس په کار سي.

همدا راز پریکړه وسوه، چې په راتلونکې ادري ناسته کي به د ستونزو د حل چارو دقیقه ارزونه کیږي او اړوندي اداري به ستونزو ته د رسیدني په برخه کي خپل هر اړخیز راپور شریکوي.

# له اوږد ځنډ وروسته ابن سینا فارمسي دولتي شرکت خپل فعالیت بیا پیل کړ



د مالیې وزارت اړوند د ابن سینا فارمسي دولتي شرکت یو ځل بیا د درملو او روغتیایي محصولاتو د تولید چاري پیل کړې.

د ابن سینا فارمسي دولتي شرکت، چې په لوړ کیفیت سره د مختلف ډول درملو او روغتیایي محصولاتو د تولید چاري ترسره کوي، په تیرو کلونو کي له فعالیت څخه پاته سوی وو، چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د حکومت له لوري دولتي شرکتونو ته د ځانګړي پاملرني په پایله کي د نورو مهمو دولتي شرکتونو په ګډون د ابن سینا فارمسي دولتي شرکت هم په فعالیت پیل وکړ، چې اوسمهال په ملي کچه ګټور خدمتونه وړاندي کوي.

د ابن سینا فارمسي دولتي شرکت سربیره پر دې، چې درمل او روغتیایي محصولات تولیدوي، بازار ته د روغتیایي محصولاتو او درملو په وړاندي کولو سره د انفرادي درملتونونو ترمنځ د درملو د پلور او بیو د کنترول په برخو کي سالم رقابت ته لاره هواروي او همدا راز د بیړنیو حالتونو لپاره یوه اندازه درمل هم ذخیره کوي.

دغه شرکت اوسمهال د کمو امکاناتو په لرلو سره د ډیفن هیډرامین شربتونو او پراسټامول ټابلیټونو په ګډون لس قلمه درمل او یو شمېر روغیایي موضوعي محصولات تولیدوي او د پلازمیني په ګډون په ټول هیواد کي د (۱۳۰) فعاله درمل پلورنځیو له لاری هیوادوالو ته ګټور خدمتونه وړاندي کوي، چي د خپلو ښو فعالیتونو له لاري یې په روان مالي کال کي (۲۵۹) میلیونه افغانۍ عواید د دولت حزانې ته اضافه کړي دي.

د یادوني وړ ده، چي دغه شرکت په (۱۳۳۳ ل) کال کي د فارمسي تصدۍ په نوم په فعالیت پیل وکړ، چي په (۱۳۹۷ل) کال کي د دولتي شرکتونو د قانون په اساس د ابن سینا فارمسي دولتي شرکت په نوم ونومول سو. یاد شرکت د اویایمې لسیزي تحمیل سوو ناخوالو او جګړو څخه وړاندي له (۱۲۰) قلمه څخه زیات درمل او روغتیایي محصولات تولیدول، چي د سیمي په کچه له نیک شهرت څخه برخمن وو، خو په تیرو څلورو لسیزو کي د نا امنیو او نه پاملرني له امله یې فعالیتونه ځنډیدلي وو، چي د اسلامي امارت په راتګ سره یې یو ځل بیا فعالیت پیل کړ او اوسمهال په ملي کچه هیوادوالو ته ګټور خدمتونه وړاندي کوي.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان ۲ جریب و سه بسوه زمین زراعتی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۲) جریب و (۳) بسوه زمین زراعتی دولتی واقع ولسوالی موسهی ولایت کابل را زا طریق داوطلبی به شکل آفر سر بسته به اجاره میدهد.

در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی واجد شرایط خواهان اجاره گرفتن جایداد فوق الذکر را دشته باشند، درخواستی های خویش را به ریاست ع املاک دولتی واقع تعمیر (۱٤) منزله سینمای پامیر سپرده سر از تاریخ ۱٦ میزان الی مدت (۲۱) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

## اعلان مجدد داوطلبی پمپ استیشن دهمزنگ ملکیت شرکت ملی بس

شرکت دولتی ملی بس در نظر دارد یک باب تانک تیل ملکیت خویش را واقع دهمزنگ، ناحیه سوم شاروالی کابل با ملحقات آن که شامل پایه های توزیع تیل و گاز میباشد از طریق داوطلبی برای مدت (۳) سال به کرایه بدهد.

شرکت های تجارتی، لوژستیکی و یاگاز تخنیکی که مطابق فصل سوم ماده شانزدهم قانون تدارکات واجد شرایط باشند درخواستی های شان را ضم فوتو کاپی جواز معتبر و تذکره تابعیت از تاریخ ۲٦ میزان الی مدت (۷) یومی تقویمی به مدیریت عمومی قرار داد جایداد های شرکت دولتی مسافر بری ملی بس واقع زنده بانان تسلیم نموده و شرطنامه را ملاحظه تضمین طبق صراحت قانون نقدآ اخذ میگردد.

## اعلان پروژه تهیه و تدارک سیستم برق سولری گمرک سپین بولدک کندهار

وزارت مالیه ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک سیستم برق سولری گمرک سپین بولدک کندهار، اشتراک نموده و شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دسک در مشاوریت تدارکات وزارت مالیه بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته سر از تاریخ۲٤میزان الی ۱۵ عقرب ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست تدارکات وزارت مالیه واقع ناحیه ۲ پشتونستان وات ا رایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه قبل از داوطلبی به تاریخ ۷/عقرب/۱٤۰۱ در زمان ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در منزل دوم تعمیر معینیت اداری، آمریت تدارکات وزارت مالیه دایر میگردد.

تضمین آفر بصورت تضمین بانکی مبلغ ٦۰۰,۰۰۰ )ششصد هزار افغانی( بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۵ عقرب ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر می گردد.

SHTAMANAI

**د امتياز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صديقي، عبدالرحمن سجاد، ابراهيم گران او اجمل زاهد
**د خبر مدير:** داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري
**ويبپاڼه:** mof.gov.a
**ټويټر:** afghanistanmof@
**يوټيوب:** afghanistan mof
**شمېره :** ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



له دې وړاندې د بهرني ټرانزيټ په کړنلاره کې ټرانزيټي محمولو ته له مبداء گمرک څخه تر مقصد گمرک پورې کم وخت ورکړل سوی وو، چې اکثره وخت به سوداگرو له دې برخې شکايت درلوده. له نېکمرغه چې د نوي پرېکړې په پلي کېدو سره به ياده ستونزه حل سي.




| شماره | مبدا گمرک | مقصد گمرک | مخکنۍ ورځې | پېشنهاد سوي ورځې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تورخم | آقينه | ٦ | ۸ |
| ۲ | سپين بولدک | حيرتان | ۷ | ۹ |
| ۳ | سپين بولدک | شبرخان بندر | ۵ | ۸ |
| ۴ | سپين بولدک | نيمروز | ۴ | ۵ |
| ۵ | اسلام قلعه | حيرتان | ۸ | ۱۰ |
| ٦ | اسلام قلعه | شبرخان بندر | ۸ | ۱۰ |
| ۷ | تورغندی | شبرخان بندر | ۸ | ۱۰ |
| ۸ | نيمروز | شبرخان بندر | ۸ | ۱۰ |
| ۹ | آقينه | شبرخان بندر | ۴ | ۵ |
| ۱۰ | نيمروز | حيرتان | ۰ | ۱۰ |

په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته د دولتي شرکتونو عمومي رياست د رهبرۍ په همکارۍ د (۱۴) دولتي شرکتونو (۱۳،۹۷۹) جريبه ځمکه او جايدادونه له غصب څخه خلاص سوي دي.




د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د ۱۴۰۱ هـ ل کال د ورې مياشتې له لومړۍ نېټې څخه د روان کال د تلې مياشتې تر (۲۱) نېټې پورې (۳۳) ميليارده او (۳۵٦) ميليونه افغانۍ غير مالياتي عوايد راټول کړي او د هېواد بيت المال ته يې تحويل کړي، چې د تېر نظام په پرتله د پام وړ زياتوالی ښيي.




# Meeting of General Directorate of Customs and Ministry of Industry and Commerce Held




the 1st meeting of the General Directorate of Customs and the technical committee of the Ministry of Industry and Commerce convened in the conference room of Customs and Revenue Department. In the committee, the parties discussed and made the required decisions about the construction of export and import facilities; the resolution of tariff-related issues; the existing monopoly and agency problems by commercial companies, and other relevant matters. It is worth mentioning that the technical committee which addresses the shared concerns of both departments, was established to promote further cooperation between them.

# Director General of Customs Meets Kandahar Traders



in an official visit to assess Kandahar Customs, Director General of Customs Mufti Abdul Mateen Saeed met with the representatives of various commercial companies and unions at Kandahar Chamber of Commerce. The meeting which was also attended by the Deputy Economic Advisor to the Prime Minister, the opening remarks were made by Mohammad Siddiq Mohmand, the chairman of the Kandahar Chamber of Commerce, who welcomed the delegation and noted that since the Islamic Emirate of Afghanistan came to power, corruption has been eradicated and customs procedures have become simpler and continued by saying that the issues facing merchants are now being addressed. The deputy economic advisor to the prime minister remarked that the goal of our visit to Kandahar is to hear about the challenges faced by the traders. He urged them to share any current issues they are experiencing with the delegation. Kandahar traders in turn shared the problems in the customs with the delegation and asked for a solution. The appropriate instructions were given to the officials by Director General of customs. He also said that he will share with the leadership of the Ministry of Finance to solve some of the remaining problems.

# Minister of Finance Meets Japan Ambassador to Afghanistan



Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, the minister of finance, met Okada Takashi, Japan Ambassador to Afghanistan, at his office. The Japanese Ambassador spoke with the Minister of Finance about the history of the bilateral relationship between Japan and Afghanistan, Japan's financial, development, and humanitarian assistance to Afghanistan, as well as ways to strengthen bilateral ties. He also said that the Japanese people and government want a stable Afghanistan because they observe the Islamic Emirate's actions and have noted how the I.E.A. has eradicated corruption .and brought peace to the entire nation. While extending a warm welcome to the Japan Ambassador, the Minister of Finance, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, stated that the Islamic Emirate is dedicated to developing its ties with Japan. We now see it as a positive opportunity, and we want Japanese merchants and investors to come and make investments in our infrastructure and fundamental areas.

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.